هدايت الله هدايت

۲۰۱۰/۹/۱۵

## د نړۍ د وتلو رسنيو او ورځپاڼو پېژندنه (۲۵) ډېلي تيلګراف

# د ډېلي تيلګراف ورځپاڼه



READ A BESTSELLER EVERY DAY

Six Nations Rugby
Special supplement
Sport

The 30 most romantic films
Arts+Books plus
Jan Moir's Valentine dinner in Paris
Weekend

Short breaks to New York from £249
Travel Page 25

The Daily Telegraph

BRITAIN'S BEST-SELLING QUALITY DAILY

£10,500 fees if Oxford is to stop the rot

12 SECTIONS EVERY SATURDAY

Elton John

Sugar and spice

Anne Robinson

The Thelwell pony

Private Diana video to be shown on TV

د ډېلي ټلګراف ورځپاڼه (The Daily Telegraph) په انګلستان کي د نام و نښان ورځپاڼه ده چي په لندن کي خپرېږي ، دغه سهارنۍ ورځپاڼه ددې هيواد د دروو مهمو ورځپاڼو په کتار کي راځي چي په کال ۱۸۵۵ کي د Colonel Arthur B. Sleigh لخوا تأسيس سوې او په هغه وخت کي د Daily Telegraph Courier په نامه و يادېدله . د غه ورځپاڼه د کره او جالبه ګزارشو په خپرېدو سره ډېر ژر د انګرېزانو د پاملرني وړ وګرځېدله .
ډېلي ټلګراف ورځپاڼي په لومړي سر کي و ټولنيزو موضوعګانو ته زياته پاملرنه درلودله، خو را وروسته يې اقتصادي او صنعتي برخو ته هم پام واوښت ، مفصل تاريخي ګزارشونه به يې هره ورځ خپرول څو خپل مخاطبان ور باندي مصروفه وساتي. په دې ورځپاڼه کي په شمال اوجنوب کي د امريکا د لانجوڅخه نيولې بيا د آلمان او فرانسې د څلور کلنو جګړو او همدارنګه د هسپانيا په جګړو پوري مربوط مفصل ګزارشونه خپرېدل . په هغه وخت کي دغه شاني مطالبو خپرول ښه بازار دلود او د مخاطبانو په جذبولو کې لو ونډه اخيستله . وروسته يې د خپلي ورځپاڼي نيمه صفحه ودولت او سياست ته ځانګړې کړه څو د نورو خپرونو لاره هم ځانته خلاصه کړي تر څو خپله ګټه زياته او د مطلب خبره هم و خپلو لوستونکو ته ورسوي .
دد غي ورځپاڼي مخاطبان زياتره د انګليسي ټولني هستمن او بډای خلک دي او په اوسني وخت کي د سياسي لحاظه محافظه کاره يوه ښئ اړخي موضع لري . ورځپاڼه د برتانيا د محافظه کار ګوند (Conservative Party ) د رهبرۍ سره شخصي اړيکي لري او د محافظه کارانو د فعالينو په کړيو کې خپل پراخ نفوذ ساتلی دئ .
ددې ورځپاڼي کاري برنامه خاصتاً هغه برخه يې چي د سلطنتي کورنۍ په ورځني فعاليتوپوري اړه لري ډېره ډکه ده . بله برخه يې چي زياته خندنۍ ده د مټ Matt په نامه ياديږي او د ورځپاڼي په لومړي مخ کي چاپيږي هغه هم زيات لوستونکي لري . ددې ورځپاڼي مالک تر ۲۰۰۴ پوري د مطبوعاتو قدرتمنده شخص کاناډايي تجار کنراډ بلک Conrad Black وو. کنراډ چي د يوې يهودي ښځي سر يې واده کړی دئ يو وخت ويلي وه چي « د ورځپاڼو مسؤل مديران هغه وخت زموږ سره مخالفت کولای سي چي نورنو زموږ کارمندان نه وي . موږ د پيسوپه زور هغه څوک درولای سو چي د شا دخوا لغتې و هي. د مامورينو د معاش ورکولو مسؤل هم زه يم، بناءً دا زه يم چي تصميم نيسم ورځپاڼه بايد څه شي وليکي او څرنګه اداره سي » . نوموړي د يوې افتضاح سره د مخامختيا په وجه د هماغه کال په جون کي د ټلګراف ګروپ لميټډ(Telegraph Group) چي د هالينګر انټرنېشنل ( Hollinger International) يوه برخه وه خرڅه او د په انګلستان کي د بارکلي په نامه مشهوره بانک لرونکو ميلياردر


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنی د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په خير و لولئ

غبرګوليان ورونو ډيوډ بارکلي David Barclay او فرېډريک بارکلي Frederick Barclay په ۶۶۵ ميليونه سټرلنګ پونډه را نياوه . دغه د ټيلګراف ګروپ د ډيلي ټيلګراف (The Daily Telegraph)، سنډې ټيلګراف (Sunday Telegraph)،و يکلي ټلګراف (Weekly Telegraph ) او د سپيکټيکر(The Spectator) يا نندارچي په نامه مجله هم خپروي .
ډيلي ټيلګراف په اروپا کي د انګلستان لومړنۍ ورځپانه وه چي په کال ۱۹۹۴ کي يې انټرنيټي ويبپانه د الکټرونيک ټيلګراف (Electronic Telegraph) په نامه را وايستله او د عامه سنجش له رويه ويل کيږي چي دغه سايټ په خپل نوع کي کامل ترينه سايټ دئ چي د ورځپاني ټوله مطالب پکښې ځاى کيږي .
ډيلي ټيلګراف د انګلستان څخه علاوه په اروپا، استراليا او افريقا کي هم زيات لوستونکي لري ،په داسي حال کي چي په فاينينشل ټايمز او وال سټريټ جورنال ورځپانو کي د تجارت او اسهامو خبرونه زيات خپريږي په دې ورځپانه کي هم د اسهامو په اړه بهترين خبرونه سته او د مطلب خلک او منابع خپله استفاده ځيني کوي . ددې ورځپاني تيراژ د ۸ لکو او ۱۳ لکو نسخو په شاوخوا کښته و پورته په نوسان کي دئ . ډيلي ټيلګراف د انګلستان وروستى ورځپانه ده چي د خپل چاپ غټ فورم يې لا تر واسه ساتلى او نه يې دئ ايسته کړى .

مأخذونه :

http://en.wikipedia.org/wiki/The_Daily_Telegraph
http://www.telegraph.co.uk/
.http://en.wikipedia.org/wiki/Hollinger_Inc


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولئ